مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۳/۲۶

نقره يي پايزيب

هغې نجلۍ نه مه ډاريږه!
چې کتاب لولي
قهوه څښي
د شرابو ، سره نيشه يې
د بنګړيو له شنه شرنګه شيندل کيږي
او د شونډو شير ين رنګ يې لکه خاپ د سره ريدي
د هر جام هرې پيالې په نرۍ ژۍ باندې شين کيږي
+ + + + + +++
هغې نجلۍ نه مه ډايريږه!
چې لوی موَ ج د بنفشو
او تر ځنډه د ښايست د ګلابونو درمندونه
په پړوني کې خپل نه شي پټ ساتلی
+ + + + + +
هغې نجلۍ نه مه ډاريږه!
چې له ويرې او ډار پر ته په کړس خاندي
مازيګر د چينارونو له شنه غږ سره يوځای سندرې وايي
چې په چا عاشقه شوې دخوشال غوندې په جار يې خولګۍ ستايي
خپلې مړاوې مړاوې زلفې د بادونو غيږ ته سپاري چې وناڅي
د ټيکري په جای نماز يو څو رکاته د غاټول ګلونه لمانځي
هغې نجلۍ نه مه ډاريږه
چې د حُسن سپين ګلان هر مازيګر ژيړې رڼا ته
د چينې په ترو ترو آيينو باندې ورشيندي
او د مخ شيرچايی سيوری
نيمه شپه د يوه سيند سپينو سندرو باندې مينځي
او د ډُهل نارينه غږ ته يې په پښو کې نقره يي پايزيب رپيږي
نو
هغې نجلۍ نه مه ډاريږه
چې کتاب لولي
قهوه څښي
د شرابو ، سره نيشه يې
د بنګړيو له شنه شرنګه شيندل کيږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ